# الله تعالی فرمايي: د بني آدم هر عمل د هغه لپاره دی پرته له روژې څخه چې هغه زما لپاره ده او زه پرې اجر ورکوم

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «الله تعالی فرمايي: د بني آدم هر عمل د هغه لپاره دی پرته له روژې څخه چې هغه زما لپاره ده او زه پرې اجر ورکوم او روژه ډال دی او کله چې په تاسو کې د يو چا د روژې ورځ وي نو پوچې خبرې او په لوړ اواز دې بد رد نه وايي، که چېرته ورته چا کنځلې وکړې او يا يې ورسره شخړه کوله، نو ودې وايي چې زه روژه دار سړی يم، او قسم په هغه ذات چې د محمد صلی الله عليه وسلم نفس د هغه په لاس کې دی چې د روژه دار انسان د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه پاکيزه دی، د روژه دار لپاره دوه خوښ دي چې خوشحاله کوي يې: کله چې روژه ماته کړي نو خوشحاله شي او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو په خپله روژه خوشحاله شي».

[صحيح] - [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله جل جلاله په قدسي حديث کې فرمايلي دي: د بنی آدم د هر عمل نيک يو په لسه تر اووه سوه چنده پورې زياتېږي، پرته له روژې څخه، چې هغه زما لپاره ده او ځان ښودنه پکې نه کيږي، نو زه پرې بدله ورکوم او زه پوازې د هغه د نيک عمل د ثواب په اندازه پوهېږم چې څو چنده يې کړم او نيک يې ورته څومره زياتې کړم. بيا يې وفرمايل: (او روژه ډال دی) او د دوزخ له اور څخه د ساتنې، پوښ او قوي کلا ده؛ ځکه چې له خواهشاتو څخه ځان ساتل او ګناه کول دي او دوزخ په خواهشاتو پوښل شوی دی. (فإذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث) نو ناوړه خبرې دې نه کوي لکه د کوروالي او مست په اړه او نه مطلق پوچه وينا دې نه کوي. (ولا يَصخب) او د جنګ جګړې پر مهال دې چغې نه وهي. (فإنْ سابّه أحد أو قاتله) نو که ورته (په روژه کې) ښکنځل وکړه او يا يې ورسره شخړه وکړه؛ نو ودې وايې چې: زه روژه دار يم؛ کېدی شي ترې منع شي، خو که هغه خامخا په رښتيا سره شخړه کوله نو تر ټولو (په لږ زور کارولو سره دې) منع کړي، لکه تېری کوونکی چې څنګه منع کيږي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم قسم ياد کړ او د هغه ذات په نوم يې لوړه وکړه چې نفس يې د هغه په واک کې دی چې د روژې له امله د روژه لرونکي خوله بدبويه کېدل به د الله تعالی په نبز د قيامت په ورځ د مشکو له بوی څخه ډېره خوشبو وي، او د هغو مشکو له کارولو څخه به ډېر ثواب ولري چې د جمعې په لمانځه او د ذکر په مجلسونو کې يې کارول سنت دي. روژه دار لره دوه خوشحال دي چې پرې به خوښ شي: کله چې روژه ماته کړي نو د لوږې او تندې په ختمېدو سره خوشحاليږي، او پدې چې د روژې د ماتولو اجازه ورکړل شوه، همدارنګه د روژې په بشپړولو او د عبادت په پای ته رسولو او دا چې رب يې پرې اساني راوسته او په راتلونکي کې د روژې نيولو توان ورکړي. (وإذا لقي ربه فرح بصومه) او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو د خپلې روژې په بدله او ثواب به خوشحاله شي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee